الدرس الحادي عشر
معركة الأحد

يولسم درس
د أحد غزوة

**جنګ اُحد** : د جنګ بدر نه پس پوره یو کال روستو د مسلمانانو او کفارو مینځ کښې دا جنګ وشو ، د جنګ بدر بدل اخستلو دپاره مشرکانو درې زره (۳۰۰۰) لښکر تیار کړو اُووه سوه(۷۰۰) مسلمانانودهغې مقابله وکړه ، په اول د جنګ کښې مسلمانانو ته فتحه نصیب شوه ، کافرانو میدان پریښودو، مګر دوباره راواپس شو، او د غنډئ (جبل رماة) د طرفنه ئے په مسلمانانو باندې حمله وکړه ، دا هغه غر وو چه رسول اللهﷺورباندې غشي ویشتونکي پنځوس کسان مقرر کړې وو، د غنیمتونو د جمع کولو دپاره دوی راکوز شو، ددی وجے نه مسلمانانو ته د کفارو د طرفنه تکلیف ورسیدو .**جنګ خندق** : دجنګ اُحد نه پس د یهودو یو وفد مکے والو له لاړو او د مسلمانانو خلاف په مدینه باندې د حملے ترغیب ئے ورکړو، او د هر قسمه امداد وعده ئے ورسره وکړه ، مشرکانو د یهودو خبره ومنله ، بیا د یهودو نورو قبائلو پسې هم لاړو، او د مسلمانانو په خلاف ئے جنګ ته تیار کړل ، هغوی هم اتفاق وکړو ، دهر طرفنه کافرانو او مشرکانو د مدینے په طرف روان شو، تقریبًا د لسو زرو (۱۰۰۰۰) لښکر په مدینه منوره باندې حمله آور شو ، نبي کریم ﷺ د دشمن د سازشونو نه خبر وو ، د صحابه کرامو رضي الله عنهم نه ئے مشوره واخستله ، سلمان فارسی رضی الله عنه دا مشوره ورکړه چې د مدینے منورئی کوم طرف ته چې غرونه نشته هغه طرف ته به خندق وکنستلے شی ، ټول مسلمانان د خندق په کنستلو کښې شریک شو ، ددي وجي نه زرتر زره منصوبه مکمل شوه ، ددي په نتیجه کښې مشرکان د مدینے نه بهر د یو میاشت پوري په خیمو کښې اُوسیدل، خندق باندي ورتلل ورته ګران وو ، آخر کښې الله تعالی تیزه سِلئے راولیږله ، او د مشرکانو خیمئ ئے د بیخ نه أوباسلی ، کافرانو باندی یره راغله ، او په جلتئ سره خپلو علاقو ته واپس شول ، الله تعالی ټولو لښکرو له په یواځے شکست ورکړو، او د مسلمانانو مدد ئے وکړو . **د مکے فتح** : په أتم کال د هجرت باندی رسول اللهﷺ فیصله وکړه چې په مکه مکرمه باندی حمله وکړی، په لسم (۱۰) د رمضان المبارک باندی د لس زره (۱۰۰۰۰) مجاهدینو سره روان شو، او بغیر د جنګ نه مکے مکرمی ته داخل شو، ځکه چې قریشو اسلحه ایښودلئ وه ، الله تعالی د مسلمانانو مدد وکړو، نبي کریم ﷺ مسجد الحرام ته داخل شو، د کعبة الله طواف ئے وکړو، بیا کعبے ته دننه ورغلو ، او دوه رکعاته مونځ ئے وکړو، او بیا هغه ټول بُتان ئے مات کړل کوم چې خانه کعبه کښې وو، بیا د خانه کعبے په دروازه کښې ودریدو او لاندی قریش ولاړ وو ، د خپلی فیصلی انتظار ئے کولو ، رسول اللهﷺ مشرکانو ته وویل: چې تاسو څه سوچ کوئ چې زه به تاسو باندی د څه فیصله کونکے یم ؟ ټولو جواب ورکړو چې مونږ ستا نه د خیر خواهئ أمید ساتو ځکه چې ته زمونږه عزتمند ورور ئے ، او د عزتمند ورور ځوئی ئے ، رسول الله ﷺ ورته ووئیل : تاسو ټول آزاد یئ ، رسول الله ﷺ د معافئ یو مثال قائم کړو چې خپلو دشمنانو ته ئے عامه معافی وکړه ، د مکے د فتح نه پس خلق ډلے ډلے په اسلام کښې داخلیدل شروع شول ، په لسم (۱۰) کال د هجرت چي رسول اللهﷺ آخری حج کوو نو د یو لاکهـ (۱۰۰۰۰۰) نه زیات صحابه کرام ورسره وو ، د حج نه پس واپس مدینئ منوري ته راغلی .